مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالغفور لیوال

۲۰۱۹/۰۴/۰۴

# افغاني رېنسانس نه تم کيږي






دا تصادفي نه ده، چې په لنډو ورځو کې څو نوموتي پښتانه سندرغاړي د عام و خاص خولو ته وغورځول شول، دسیسه ګر اول د هر هنرمند مجبوريتونه معلوموي او بيا يې د هماغو مجبوريتونو او کمزوريو پر تپ ګوته ږدي، پر موندلي تپ يې دومره ځوروي، چې خپل کار پرې وکړي او په داسي تورونو يې ککړوي، چې دخلکو په ژبو او ذهنونوکي يې سپک کړي. هيڅ پيشو د خدای لپاره موږک نه نيسي. هماغسي چې ګاونډي د يوه ټاکل شوي پلان پر بنسټ پښتانه سندرغاړي تورنوي، هماغه شان يوکورنی سری له نامعلومو امکاناتو او سرچينو څخه په ګټنې د نړۍ له يوه کونجه ټکټ اخلي او بل کونج ته ځي، چې يوه بله افغانه کرګه او ستنه د خلکو خولو ته وغورځوي. هغوی چې په خپله درنه او بډايه ژبه کي دربيمه درجه ليکوال دي او باور لري، چې نور نوښت نه شي کړای، نوبايد ماجرا وپنځوي او خپلوانو هويتونو ته په سپکاوي، خلکو ته ځان ورپه ياد کړي، چې له بده مرغه په خپل دغه چل کې بريالی کيږي او غشي يې ترموخې رسيږي.

دکتورصادق فطرت ( ناشناس) يو بنه سندرغاړی دی او دغه هنري کار ته يې درناوی بويه، تر دې ورهاخوا يې د هرراز سرسري، عاميانه او ناکاډميکوځرګندونو په وړاندي توند غبرګون او سپکاوی دعقده يي، ناروغو او په رواني بېثباتۍ اخته وګړيو ژرندي ته اوبه ورسمول دي. پښتو دومره خواره ژبه نه ده، چې داسي ځرګندوني به يې ژوبله کړای شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د پښتو، پښتنو، د هغوی نیکونو ساکي ـ اریایي ټبرونو او تاریخي مخینې، ډبرلیکونو، ژبې لرغونتیا او دا چې : څوک څوک دي؟ پوښتنو په اړه باید علمي حقایق له پوهاند دکتور زیار، پوهاند الهام، پوهاند تږي، پوهاند حبیبي، استاد کهزاد، استاد کاکړ او نورو څخه واورو، نه له سندرغاړو څخه. هماغسې چې نه ښایي له دغو ژبتوکمپېژندونکیو Ethno -philologists مورخینو څخه دې د موسیقي د سُر وتال په اړه پوښتنه وشي، مګر نه مو دي اورېدلي چې سترخوشال ویلي ول: هرسړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه...؟
د پټې خزانې په اړه ترما مشرانو او زما استادانو علمي لیکنې کړي او ما هم خپله کوشنۍ ونډه ترسره کړې ده، دلته یې بیا تکرار اړین نه دی. په عقدو ناروغو وګړیو هم لوستي او ځان یې پرې غلی کړی دی، ځکه د ځواب ویلو یې نه دي.

## خو داسې ولې کیږي؟

پښتني ـ افغاني رېنسانس راپیل شوی دی. افغاني ویښتیا په علمي، ژبنۍ، سیاسي، اقتصادي او هنري برخو کې له ورایه لیدل کیږي او دې هغو وګړیو او کړیو ته ویره پیښه کړې ده، چې له دغې روښانتیايي ویښتیا څخه ویریږي.
د پښتو برخلیک او تاریخ یوازې په پټه خزانه یا هغه و دغه شخص پورې نه ده تړلې. که څوک د پټې خزانې جعلي ګڼلو هڅه کوي، له خورا لرغوني او بډای پښتني فولکلوریک، میتولوژیک او استثنایي ولسي فرهنګ سره به څه کوي؟ له لنډۍ سره به څه کوي؟ له کاکړۍ غاړو، د ملي هینداري له هغو نکلونو سره به څه وایي، چې په سیمه کې بېجوړې دي؟ له خوشال سره به څه کوي؟ له غني خان اواستاد الفت و مجروح سره به څه وایي؟
خبره دا ده، چې پښتني ـ افغاني رېنسانس داسې پیاوړی روان دی، چې په داسې خس و خاشاکو نه شي ایسارېدلای.
د ژبو په اړه نوی فېلوسوفي نظر دا دی، چې ژبې له خپلو ټولو فرهنګي شتمنیو سره سره، د هغو د ویونکیو د انساني ژوند د شرایطو په څرنګوالي پورې تړلي، چې همدا اوس په کې دي.
د ژبې د ودې و پراختیا ډینامیسم د هغو نومهالوالی ( معاصریت Contemporaneity ) دی. اوس نو د ژبو په وړاندې پوښتنه یوازې دا نه ده چې څو سوه کلن متون لري؟ [ سره له دې چې له یو یا دوه اړخونو څخه لرغوني متون مهم او د پام وړ دي] اوس اساسي پوښتنه دا ده، چې یوه ژبه په سیاست، دفتر، اقتصاد، منبر، ښوونځي، ژباړه، تخنیک، سپورټ او تولید کې څومره کاریږي. پښتو له دې اړخه په چټکۍ سره پرمخ ځي. تاسو څه فکر کوئ، چې په سیمه کې به پښتو موسیقي څومره خلک اوري؟ همدا چې په نړیوالو ډګرونو کې انګریزي ژبې کومینټېټران چیغه وهي : شپړیزه ه ه ه ه !!!
دا څه مانا لري؟ که د ژبې د ویونکو معاصر شرایط او نومهالوالی اصل نه ګڼل کېدلای، نو د سانسکریټ او لاتین په څېر بډایې دیني، علمي، فیلوسوفي او ساینسي ژبې ولې مړې شوې او ځای یې د انګریزي په شان کمزوریو ژبو نیولی دی؟
ولې انګریزي ژبه د انګلوساکسون ( یوولسمه میلادي پېړۍ) جګړو راوروسته په خپل تصنعي جوړښت او خورا لنډ عمر سره له یوې بدوي او بربري لهجې څخه نړیواله ژبه شوه ؟ انګریزي، چې له ګرامري پلوه ژرماتیکه او د وییزېرمې و ترنګونو له مخې له فرانسوي – هسپانوي ژبو جوړه ده او له یوناني، لاتین و رومي ژبو څخه هم ښه ډېره پوروړې، ولې په نړۍ کې نن تر هرې بلې ژبې زیاته دود ده؟ دا د انګریزي ژبې کمال نه ، بلکې د انګریزانو کمال دی. دا پیاوړتیا د دغې ژبې په تاریخ و متونو پورې نه ، بلکې د انګریزانو په سیاست، اقتصاد او ویښتیا پورې تړلې ده .
د انګریزي نومهالیو ادبیاتو پلار ( ویلیام شکسپیر) له ستر خوشال خان خټک سره ایله پنځوس کاله زماني واټن لري. ما دواړه په غور لوستلي دي، د فکري، فیلوسوفي، ادبي او هنري ـ ښکلاییز اړخه زموږ خوشال تر شکسپیره ډېر لوړ او د نوښتونو خاوند شاعر دی، خو شکسپیر انګریزي نړیوال ښکېلاک، سیاست، تخنیک، تولید، حاکمیت او اقتصاد تر شا درلوده، چې نړۍ ته یې وروپېژانده او خوشال تر پنځوس کاله پخوا د بېوزله، نالوستیو، په خپلو منځونو کې ښکېلو پښتنو شاعر و، چې لا یې هم نړۍ ته د ورپېژندلو او تفسیر لپاره هېڅ نه دي کړي.
موږ همداسې د خپل تر ټولو زاړه، ممتاز او په نړیوال کچ بېساري ولسي فورم لنډیو د پېژندنې پوروړي هم یو او د خپلو معاصرو فیلوسوفیکو مفکرانو غني خان او مجروح د تفسیر و شننې ورسره.

## د پښتني ـ افغاني رېنسانس مخالفین څه غواړي؟

لومړی یرغل ولې په نوموتو هنرمندانو او فرهنګي شخصیتونو دی؟
ځکه په اروپایي رېنسانس کې هم تر ټولو ممتاز قشر همدوی ول، پښتو موسیقي باید بدنامه شي، دا ژبه باید یوازې د شعر ژبه وګڼل شي، حال داچې زموږ معاصر نثر نه یوازې تر چا کم نه دی، بلکې په څېړنه، ژباړه، هنري نثر او علمي پنځونو کې تر ټولو مخکې یو.
د پښتنو د فرهنګي او معنوي روح د عظمت یوه نښه دا ده، چې نه یوازې د خپلوانو ژبو سپکاوی او تخریب نه کوي، بلکې ګټه ترې اخلي او پیاوړې کوي یې هم.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

که د پښتو او پښتنو د تخريبوونکيو ترشا د ښکېلاکي کړيو لاس نه وي، نو څوک دومره وزګاردي، چې کلونه کلونه دې د پټې خزانې پر غيبت تېر کړي، دې او هغه ته دې په غيبت او تخريب کې د ورشريکېدلو عذر، زارۍ او دسيسې وکړي او په دې اړه د ليکنو د چاپ لګښتونه دې د خپلو بچو له ډوډۍ ورکړي.د دې ټولو هڅو ترشا د پټو کړيو حضور له ورايه څرګند دی، موږ ولې د خپل هېواد د هرې بلې درنې او موږ ته ګرانې ژبې تخريب نه کوو؟ دا ځکه چې هوښيار يو، ملي هوډ و اراده مو ډېره پياوړې ده. وزګار هم نه يو، ايله خپل کار وکړو.
څوک به د دې ځواب ووايي، چې د ناشناس له مجبورۍ څخه د ګټې اخيستنې لپاره د جوړې شوې غونډې او چاپ شويو ښکنځلنامو لګښتونه چا ورکړي دي؟ ولې يې ورکړي دي؟ ايا دا په لويديځ کې د افغان کډوالو د سختو کارونو په پيسو شوي دي؟ نه! هيڅکله نه . دا څرګنده ده، چې د پښتنو له ويښتيا، روښانتيا او خورا چټکې شعوري او ملي ودې څخه سخته ويره راپيدا شوې ده.

## موږ ته څه په کار دي؟

همداسې چټک پرمخ تلل، لا راويښېدل، نور فرهنګي توليد او د ژبې د نومهالتيا (معاصريت Contemporaneity) د منطق پربنسټ د پښتو ژبې صنعتي کول، سياسي کول، توليدي کول، تعليمي کول او بالاخره علمي کول. دا ژبه بايد په ښوونځي، پوهنځي، رسنۍ، دفتر، سپورټ، کارغالي، ګوند، جومات، فيسبوک، شعر، نثر، پوهنتوني کتاب او نورو برخو کې وکارېږي او خلک يې د افکارو له څرنګوالي سره اشنا شي.
تخريبګر غواړي ناشناس، ټکر، کرن، بل و بل درڅخه خوابدي کړي، پر تاسو يې وښکنځي او دوی پټ پټ خوند واخلي. دا بهير ودروئ. خپل همدغه هنرمندان له خپلو کمزوريو او اسيب پذيريو سره سره ولمانځئ، د دوی مجبوريتونه درک کړئ، ځان پوه کړئ، چې د دوی زخمي ګوته کومه ده او فرهنګي مخالف مو د ده له کومې مجبورۍ او پټ زخم څخه ګټه پورته کړې ده؟ په ياد ولرئ، چې هر هنرمند خپله کمزوري لري. استاد ګلزمان له لوړې او ناروغيو څخه هرچا ته ترانې ووېلې، خو موږ وراته، ومو ښکنځه او ټول تېر کارونه و برياوې مو ورته پر اوبو لاهو کړې. دا هغه څه دي، چې ستاسو مخربين يې غواړي.
زه د پښتو ژبې و ادب د يوه شاګرد په توګه، د خپلې ژبې او فرهنګي راتلونکي په اړه نه يوازې هېڅ انديښنه نه لرم، بلکې سخت خوشبين هم يم.
پښتو تر پنځوس کلونو پخوا زمانې زمکه و اسمان توپير کړی دی. اوس په ميليونونو خلک دا ژبه ليکي. په کمپيوټر کې، په فيسبوک کې ، په راډيو تلويزيون کې، په اخبار و مجله و پوهنتون و ښوونځي کې شته، د کرېکېټ ژبه ده، د شعرونثر ژبه ده او اوس روانه ده چې د علمي ژباړې ژبه هم شي. په تېرو پنځوسو کلونو کې د پښتو د ليکل شويو، چاپ او خپرو شويوکتابونو د سرليکونو شمېر د هېواد د هرې بلې عزيزې او ګرانې ژبې تر خپرونو زيات دی او کم نه.
د پښتونژغورنې لوی غورځنګ يوازې سياسي مقاومتي نهضت نه دی، بلکې په کلکه يو فرهنګي، هنري او ادبي پاڅون هم دی. د لويې پښتونخوا ( شمالي او سهيلي )، کابل و کندهار و ننګرهارو پکتيا ليکدود او ژبدود په چټکۍ سره نږدې کيږي، په پښتونخوا کې ليکنۍ او ګړنۍ پښتو په بېړه له انګريزي او اوردو وييونو او نوموونو څخه د پاکېدو په حال کې ده . په پښتو ژبه و ادب کې د پي ايچ ډي، ماسترې او لېسانسه فارغانو شمېر دومره دی، چې شل کاله پخوا يې چا تخييل هم کړای نه شو. په ټول لوی افغانستان کې د پښتو څانګو ( ديپارتمنتونو) او پوهنځيو شمېر له شماره وتلی دی.
د دې څومره والي ( کميت) تر څنګ به خامخا د څرنګوالي ( کيفيت) انديښنې وي، خو چې شعور او ارادې ته ګورم، باور لرم، چې هرڅه ښه کېدونکي دي.
زه د لاپو شاپو سړی نه يم، په نيمګړتياوو هم ښه پوهېږم، په دې هم خبر يم چې : " لا دپټي سر دی پټی بېرته سورور دی ! " خو د ويښتيا، روښانتيا او بدلون نښې له ورايه وينم. موږ پرمخ ځو او پښتني ـ افغاني رېنسانس نه تم کيږي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ